Social Sceince
AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# د بايزيد روښان په اثارو کې د حلول او تناسخ مفکورې

پوهنيار حميدالله حميدي [*1]

پښتو څانگه، د ښوونې او روزنې پوهنځی، هلمند پوهنتون[1]

دمسؤل آيميل آدرس : hamidullahhamidi887@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۳/۰٦/۰۱ منل سوې:۱۴۰۳/۰٦/۰۹ خپره سوې: ۱۴۰۳/۰۹/۲۰ دثبت گڼه: LSSAJ-1-1-04 مخونه (٦۲-۷۱)

## لنډيز

يقينا حلول او تناسخ دوه غيراسلامي بې بنسته عقيدې دي، ځانگړې مفکورې ورته ويلای شو، نومورې مفکورې په پخواني يونان کې رامنځ ته شوې دي، د تناسخ مفکورې هندوييزم ته سرايت کړې دی او هندوانو هم نومورې مفکورې ته رشد ورکړی دی، مگر زموږ په تصوفي اثارو کې په ناپوهي او غير شعوري توگه د تصوف په اډانه کې را ځرگندې شوې دي، خو د حلول مفکوره په اسلامي تصوف کې له يوناني تصوف را زيږېدلې ده، يادې مفکورې دواړه د وجودي فلسفې له لارې زموږ تصوف ته ننوتې دي، ځکه زموږ تصوف ته وجودي او شهودي فلسفې له يوناني تصوفه راغلې دي، څه وخت چې زموږ ادب تصوفي شو، نو ځکه يې په ادب کې ځرکونه ځرگند شول. دا مفکورې مردودې او د منلو وړ نه دي، د پېژندنې لپاره به يې دومره ووايو، تناسخ لغوي معنا د روح انتقال له يو جسم څخه بل جسم ته په معنا کارول کېږي، تناسخيان عقيده لري؛ چې کله روح له يو انسان يا حيوان څخه ووتله، بې له زماني فاصلې څخه سمدستي بل تن يا هيکل ته داخليږي، تناسخ د يو بدن نه روح جلا کېدل او بل بدن ته د هغه انتقال او تعلق دی، بې له دې چې د يو بدن نه دروح وتل اوبل ته د تللو ترمنځ وخت او زمانه فاصله واقع شي، دا عقيده پخوانی ريښې لري، يوناني فلاسفه و لومړی فيثاغورثيانو په تناسخ عقيده درلوده، هغوی بيا دغه عقيده له لرغوني اورفيوس نومي شاعرڅخه زده کړې وه، د يونان مشهورفيلسوف اپلاتون هم همدا عقيده درلوده، د دې مفکورې لوی زيان دادی، چې پلويان يې وايي هره روح که له انسانه وي او که له حيوانه؛ چې د وتلو وروسته انسان ته د حيوان روح برابره شوه او که حيوان ته د انسان روح برابره شوه ، بس ځای پکې نيسي او ورته داخليږي، خو د اسلامي فلاسفه و له لوري د تناسخ عقيده او مفکوره مردوده او باطله اعلان شوې ده. ترڅنگ يې له حلول نه مراد دا دی، چې دوه شيان يو له بله سره داسې گډ شي، چې په حکم کې يو شی وگرځي. د روښان په اثارو کې په تېره په حالنامه او خيرالبيان کې د حلول مفکوره د هغه له صوفيانه او عارفانه طرز تفکر سره تړلې ده، اخوند درويزه صاحب د اتهاماتو په لړ کې پر بايزيد يوه د حلول مفکوره هم ور منسوبوي او وايي (( ياړانو خدای په خلق کې محوه شوی، لکه مالگه په اوبو کې يا دانې په گياهونو ، له هر چا سره يو شوی.)) دوی وايي العياذ باالله چې خدای په ټولو شيانو کې گډ شوی لکه خوږوالی په خرما کې، د حلول څخه مراد يو شی په بل کې منحل کېدل دي، دلته موخه داده چې دا مفکورې بې دينه مفکورې دي، له نورواديانواومدنيتونو سره تړاو لري؛ زموږ

له دیني عقیدې، اصولو او اسلامي ثقافت سره پوره مغایرت او ټکر لري، ځان ساتل ورڅخه لازمي او په هیڅ صورت د منلو وړ نه دي.
**کلیدي کلیمې:** روښاني نهضت، تصوف، تناسخ مفکوره، حلول مفکوره، اثار

## مېتود او کړنلاره

د مقالې ټولونې په برخه کې مې د څېړنې ډول کتابتوني دی، له علمي تشریحي او تاریخي مېتودونو ګټه اخیستل شوې ده، چې کمپوزیټ مېتود یې پایله ګرځي، د معلوماتوتحلیل او اوډون له معتبرو اخځلیکونو څخه شوی دی، له همدې تاریخي اثارو څخه استفاده شوې ده.

## سریزه

حقیقت دادی، چې په نړۍ کې مختلف دیني، سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او هر اړخیز تحریکونه منځ ته راغلي دي، د دې نهضتونو موخې سره بېلې وې، مګر په ظاهر کې خو ټولو د بشر ژغورنې پیغام درلود او په معنا کې یې بېلا بېل اهداف پالللي دي.

زموږ هیواد چې یو ستراتیژیکه نقطه ده، نو له هر پلوه مختلف توپانونه ور باندې راغلي دي، ځکه د دینونو، فرهنګونو، مدنیتونو او سیاستونو د تقاطع نقطه ګرځېدلې ده، د دې تحریکونو د اړو دوړ په لړکې یې کله ناکله ډېر څه په ناګهانه توګه قبول کړي دي، یو له دې نهضتونو د پیرروښان نهضت و، چې د مغلو په وړاندې یې مبارزه وکړه او ځان یې د تصوف په جامه کې څرګند کړ، مختلف اثار یې د فکري یووالي په موخه ولیکل، مخالفینو یې الزامونه(تورونه )ورباندې ولګول، ډېر خطرناک توریې د تناسخ او حلول د مفکورې وړاندې والی دی .

د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د مغولي ظلم د مخنیوي لپاره د پښتنو د راټولولو تر ټولو ښه وسیله تصوف و، چې بایزید روښان د یو تصوفي تحریک له مخې سیاسي نهضت تنظیم او له مغلو سره یې د جګړې میدان ته ودانګل، ځکه موږ وایو د بایزید روښان نهضت دشکل له مخې تصوفي او د معنا له مخې یو سیاسي نهضت و. بایزید روښان او پیروانو یې د خپلې همدې تصوفي لارې د تبلیغ لپاره اثارولیکل، سره له دې چې بایزید روښان مخالفینو هم کتابت ته مخه کړه، خو د بایزید روښان او پیروانو په اثارو کې د حلول او تناسخ مفکورو رنګ په لاشعوري توګه ورګډ شو، چې ځینې اشارې د دوی په اثارو کې راغلي دي (حبیبي،۱۳۹۱، ص۱۹۶).

په دې مقاله کې دواړو مفکورو(حلول او تناسخ) ته کتنه شوې ده، پایله کې به زموږ لوستونکي چې د بایزید روښان یا دهغه د پیروانو اثارلولي، د دې مفکورو سره به مخکې له مخکې اشنا وي، ځکه د دې مفکورو پېژندل د تصوفي اثارو په تحلیل کې مرسته کولای شي.

**روښاني غورځنګ ته یوه کتنه**

روښاني غورځنګ د مغلو په ضد هغه عرفاني او تصوفي خوځښت و، چې د استاد محمد صدیق روهي په وینا ((روښاني نهضت د شکل له مخې عرفاني او د محتوی له مخې نیشنل عوامي حرکت و) یاني سیاسي موخه او هدف پکي نغښتی و.)) (روهي،۱۳۹۴، ص ۲۱).

څرنګه چې په هغه زمانه کې ، نورعرفاني غورځنګونه هم موجود و لکه : مغولي جلال الدین اکبر پاچاه، د دین الهي په نوم طریقه را ایستلي وه، نور تصوفي حرکتونه هم موجود وو ، مګر کومه ضربه چې په پیرروښان وارده شوې او د ده شخصیتي بعد یې زیانمن کړی دی، په نورو تصوفي غورځنګونو پسې دومره پروپاګند او فتواوي نه دې ورکړل شوي؛ ځکه روښاني غورځنګ او نهضت سیاسي موخې لرلې .

د ځینو پوهانو په عقیده اخوند درویزه صاحب په پیرروښان د ګورګاني دولت په لمسون د الحاد ټاپه لګولې ده، زیار یې ایستلی دی، چې په دې ذریعه روښاني نهضت کمزوری کړي او له سیاسي صحنې یې وباسي (کرګر،۱۳۸۵، ص ۴۳).

تر اوسه پوري په پیرروښان او د هغه په اثارو باندي ازاده او بې طرفه څېړنه ، چې حقیقت څرګند کړي نه ده ترسره شوې، ځیني متشرع علماء هم پیرروښان ته د مبتدع په ویلو نه خوشحالیږي، خو ځیني یې په دفاع کې وربانديې د ستر لمنه غوړوي، دروښاني نهضت په اړه د نظر خاوندان په درېو ډلو ویشل شوي دي، لومړۍ ډلې روښان په تمامه مانا ستایلی او هغه یې د مبالغې ترسرحده رسولی دی، دغه ډله روښان پلوي او یایي مریدان دي ، دوهمې ډلې (ددغي ډلې سالار اخوند درویزه صاحب او پلویان یې دي) روښان پیرتاریک او مبتدع ګڼلی او په تمامه مانا یې غندلی، اتهامات یې وربانديې تردې اندازې لګولي؛ چې د کفر ټاپه یې هم وربانديې بې دریغه لګولې ده ، دریمه ډله د هغې زمانې د فرهنګي وضعیت هڅې وې، چې ځینو مورخینو یې څه نا څه منصفانه قضاوت کړی دی، ددې پوهانو نظریات څه ناڅه منصفانه او د تامل وړبریښي (زیور، ۱۳۸۹، ص ۴۴).

خو بیا هم روښان یوهر اړخیز شخصیت دی او زموږ سکالو(موضوع) هم د روښان په اثاروکې د تناسخ اوحلول عقیده ده، چې په رد یې زموږ د اهل سنت والجماعت عقیده هم بیان شوي ده.

څنګه چې په بایزید روښان باندې د اخوند درویزه د نورو تهمتونو ترڅنګ د تناسخ او حلول په مفکورو د اعتقاد تورهم شته، مخکې له دې چې د بایزید روښان په متونو تکیه وکړو نو اړ یو چې ددې مفاهیمو اصلي مانا او کیفیت وپلټو:

**دروښان په اثاروکې تناسخ مفکوره**

په حقیقت کې انسانیت وخت په وخت الهي لارښوونو ته ضرورت احساس کړی دی، کله چې له دې لارښوونو یا محروم شوی دی او یا یې د وخت له حقیقت څخه انکار

کړي دي. نو بیا د خپل ناقص عقل په واسطه د فردي فاسدو مفکورو ښکار شوی دی، چې یادول یې د انسانیت په تاریخ کې په تورو کرښو انځورګري ده، له دې دیني مفکورو څخه یوه هم د تناسخ مفکوره ده، تناسخ لغوي معنا د روح له یو جسم څخه بل جسم ته د انتقال په معنا کارول کیږي، تناسخیان عقیده لري؛ چې کله روح له یو انسان یا حیوان څخه ووتله، بې له زماني فاصلې څخه سمدستي بله تن یا هیکل ته داخلیږي، تناسخ دیو بدن نه روح جلاکیدل او بل بدن ته د هغه انتقال او تعلق دی، بې له دې چې د یو بدن نه دروح وتلو اوبل ته د تللو ترمنځ وخت اوزمانه فاصله واقع شي، دا عقیده پخوانۍ ریښې لري، یوناني فلاسفه و لومړی فیثاغورثیانو په تناسخ عقیده درلوده، هغوی بیا دغه عقیده له لرغوني اورفیوس نومي شاعرڅخه زده کړي وه، د یونان مشهورفیلسوف اپلاتون هم همدا عقیده درلوده، د تناسخ د مفکورې لوی زیان دادی، چې پلویان یې وایې هره روح که له انسانه وي او که له حیوانه؛ چې د وتلو وروسته انسان ته د حیوان روح برابره شوه او که حیوان ته د انسان روح برابره شوه ، بس ځای پکې نیسي او ورته داخلیږي، خو د اسلامي فلاسفه و له لوري د تناسخ عقیده او مفکوره مردوده او باطله اعلان شوي ده (ناګار،۱۳۹۴، ص۶۸).

دهندوستان په لرغوني فلسفه کې هم هندوانو د تناسخ مفکوره پاللي ده، ځکه دوی هم له دې عقیدې څخه متاثر و، د هندوانو د تناسخ مفکوره ډېره څرګنده ده. د جان ناس په وینا (( د تناسخ عقیده په ډېرو بدوي قومونو او عالي کلتور لرونکو ولسونو کې شته، هغه د هندوانو د تناسخ عقیده داسي لیکې:

د انسان روح د مرګ په وخت کې د یو خاص حالته پرته له یو عالم څخه بل ته راځي ، په هرژوندي کې خپله دوره بشپړوي ، بیا دمرګ په وخت کې یو وار بیا بل کالبد ته منتقل کیږي ، نوی لباس اغوندي د زیږیدنې دغه دورې په پرلپسې توګه په یولړ ناپایه زمانه کې دوام مومي، له یوه جسم څخه بل جسم ته دارواحو انتقال امکان لري، په ډېرو لوړو او ټیټو موجوداتو کې را څرګند شي؛ کله یي په نباتاتو کې وینو او کله همدا روح په حیواناتو او ځناورکي لېدلی شو مثلا: کېدای شي، د ټیټي او نجسي طبقي د فرد روح په یوه بل موجود یا د یوه راجه او برهمن په کالبد کې ځای پرځای شي اویا داچې انساني روح له مرګه وروسته د غومبسي ، چنجي اووښو په وجود کې ننوزي اویا هم په جهنم کې دیوه لعنتي موجود په ځان کې ځای ونیسي، دا عقیده هم ځینې هندوان پالي، چې د نیک عمله کسانو روح د یوې برهمني یاغوره شوې ښځې رحم ته ځې ا ود شریرو روح ناوړه او مکروه رحمونوته ځي (کرګر ،۱۳۸۵،ص ۹۳).

ابن سینای بلخي په خپل مشهوراثر ( الشفاء و النجاة ) کې دغه عقیده باطله اعلان کړې ده، ځکه چې نوموړي ثابته کړې ده، چې نفس او روح پخوا دوجود یا بدن له پیدایښت څخه وجود نه لري (په غیر د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له روح څخه ) بلکې د بدنونو د خلقت په وخت کې

پیدا کېږي او هربدن خپله د یو نفس مستحق دی اوهر حیوان په یونفس شعور پیدا کوي (کرګر،۱۳۸۵،ص ۹۴).
زموږ د مسلمان امت په عقیده دا قرآني څرګندونه ده، چې کله الله جل جلاله د انسانانو روحونه د ادم علیه السلام له ملا (شا) څخه د سرومیږیانو په شکل راوایستل او بیا یې ورته وویل: (الست بربکم ) الایة ژباړه: ایا زه ستاسو رب یم؟ دوی ټولو په یو غږ سره د (بلی) یاني(هو) په ویلو د خپل فطرت څرګندتیا وکړله او ټول په فطري ایمان سره مشرف شول اود فطري ایمان خاوندان شول.یاني هر انسان بېله روح لرله او د بېلې روح خاوند دی .
دویمه بېلګه یې له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څخه د روح په باره کې د مشرکینو پوښتنه وه، چې روح څه شی دی؟ یادې پوښتنې ته الله جل جلاله ځواب ووایه، نوموړي قراني مبارک ایت په دې ډول دی ( و یسلؤنک عن الروح قل الروح من امر ربي وما اوتیتم العلم الا قلیلا . الایة) ژباړه: کله چې مشرکینو د روح په باره کې وپوښتل، نو اې محمد صلی الله علیه وسلم ته ورته ووایه چې روح د الله جل جلاله یو امر دی، تاسو ته په دې برخه کې ډېر کم علم درکړل شوی دی. د روح په باره کې د مشرکینو پوښتنه وه، چې الله تعالی جل جلاله یې خپل ځواب په قراني ایت ورکړ، دروح په باره کې تر اوسه پورې د نړۍ علوم چپ دي، همدا قراني فرموده یې ښه نمونه ده (دیوبندي، عثماني، کابلی تفسیر،ص ۱۶۵۵).
همدا رنګه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم معراج ته په سفر کې لومړي اسمان ته په پورته کېدلو سره د ادم علیه السلام لیدل چې دواړو خواوته یې روحونه ناست و، یو طرف ته چې به یې وکتل خندل به یې البته ښي اړخ ته او کیڼ اړخ ته چې به یې وکتل ژړل به یې ځکه د ښي لور روحونه جنتیان و او د کیڼ لور روحونه دوزخیان و د خندا اوژړ راز په همدې کې و (مبارکپوري،۱۳۸۱، ص ۲۱۳).
نو له دې موثقو دلایلو دا ثابته شوه چې هرانسان ، حیوان او نبات د ځانګړي ژوند او روح خاوند دی د تنا سخ دا عقیده د اسلام مبین دین په ډېرو روښاه دلایلو مردوده ، ناقابله او د منلو وړ نه دی بللي او د رد سره کرښه یې په ټنده ور رسم کړي ده.

**اوس د بایزید روښان په افکارو کې تناسخي افکار او دهغوی تاثیرات شته او که نه ؟**

په دې هکله موږ مخکې هم وویل چې اخوند درویزه زیات تهمتونه وربانديي لګولي دي له هغه د تاریخ مرصع مولف افضل خان خټک اونورو مورخینو او څېړونکو یادونه کړي د څېړونکو نظرونو او اصلي متونو ته مراجعه کوو:
سید تقویم الحق کاکاخیل د مخزن په سریزه کې لیکلي دي چې د بایزید روښان د یوه مرید له خولې اشاره اوریدل شوي ده، هغه خلیل نومیده داسي څرګندوني یی کړي دي (( خلیل اووي چې

داګیدړان بعضي ستاسو موراو پلار دي او بعضي نیا نیکونه او فریاد کوي چې د کونډو یتیمانو مالونه په زور مه خورئ په ژوند کې د خدای معرفت حاصل کړئ که داسي مو ونه کړل نو د مرګ نه پس به د انسانیت جامه ونه مومئ )) (کرګر ، ۱۳۸۵،ص ۱۰۷). کاکاخیل صاحب په غیر د تناسخ د عقیدې نه د درویزه بابا ټولي خبرې د بایزید په اړوند منی . مشهور انګلیسي مورخ الفنستن هم دی مسلې ته خپل اثر ( د کابل سلطنت بیان ) کې ګوته نیولې ، خو څېړونکي وايي چې کېدای شي دعوامو په افسانو یې تکیه کړې وي . استاد محمد صدیق روهي په خپله ژوره څېړنه کې دې نتیجې ته رسیږي اووایي ((روښانیان وايي چې موږ په تناسخ عقیده نه لرو اما دا عقیده د روښان د یوه مرید له خولې اوریدل شوي ده، په حالنامه او خیرالبیان کې راسا او سیده د بایزید له خولې د دې ډول عقیدې کوم سند نشته بلکه د حالنامې بشپړونکي هم د خلیل نومي مرید خبرو ته اشاره کړې ده.))(روهي،۱۳۹۴،ص ۳۷).

مخلص دا اتهام ردوي، پورتنۍ خبرې ته داسي دلیل وړاندې کوي، چې د بایزید مرید دا خبرې د هغه قوم د ویرولو لپاره کړې دي ، حالنامه دا خبرې د اعتقاد له وجهې نه بولي، بلکې د ویرولو یوپیغام یې بولي؛ لنډه دا هغه څه چې په تنا سخي افکارو پورې اړه لري او هغه څه چې د روښانیانو په عقایدو پوري اړه لري دادي : چې په تناسخي عقېده کې زمان د بحث وړ نه دی، یوازې روح ابدیت لري. د ښو یا بدو اعمالو په کولو سره په راتلونکو ښو او یا ناوړه کسانو یا موجوداتو کې ځای نیسي هغه لیږ باریکي لري، د روښانیانو په اثارو کې انسانیت یوازې په جسم او هیکل کې نه بولي، په دې مانا چې یوازې په صورت نه ده، بلکې د روښانیانو په عقیده هغه کسان چې د هغو پر زړو باندې د هر حیوان خصلت غالب شو د هماغه حیوان خصلت او ماهیت پیدا کوي، دوی زیاتوي چې څوک چې بد اعمال کوي دوزخ ته به ځي اوهلته به د بدرنګو او ناوړه څهرو، ګوډو او ړندو په څېر سره څرګندیږي روښآنیان معتقید دي، چې یوازې الله تعالی پر خپل حال دی، نو ددوی په اثارو کې د تنا سخ عقیده شامله نه ده بلکه دا روشنیه طریقه ده (مخلص،۱۳٦۴، ص۵۴).

## دروښان په اثارو کې د حلول مفکوره

د روښان په اثارو کې په تېره حالنامه او خیرالبیان کې د حلول مفکوره د هغه له صوفیانه او عارفانه طرز تفکر سره تړلې ده، درویزه صاحب د اتهاماتو په لړ کې په بایزید یوه د حلول مفکوره هم ور منسوبوي او وايي (( یارانو خدای په خلق کې محوه شوی، لکه مالګه په اوبو کې یا دانې په ګیاهونو ، له هر چا سره یو شوی.)) دوی وايي العیاذ باالله چې خدای په ټولو شیانو کې ګډ شوی لکه خوږوالی په خرما کې، له حلول نه مراد دادی چې دوه شیان یو له بله سره داسي ګډ شي، چې په حکم کې یو شی وګرځي (روښان، ۱۳۹۸، ص۲۲۷).

لیکن توپیر دا دی چې د حلول مذهب هم له وحدت الوجود فلسفې څخه توپیر لري، په اسلامي مدنیت کې د لومړي ځل لپاره عبدالله بن سبا د علي رضي الله عنه په باره کې له مبالغې څخه کار واخیست، د هغه په الوهیت معتقید و، کله چې یې د هغه د قتل خبر واورید ویې ویل: علی مړ نه دی، بلکې شیطان و، چې دهغه په څهره کې راغی او علي اسمان ته پورته شو (غروال، ۱۳۹۵،ص ۱۷۲). دغه رنگه ځیني نورې فرقې پیدا شوې، لکه: بیانیه ، مغیریه ، حربیه او دامیه فرقې وې، چې خرافات او چټیيات یې نشرول وروستنی فرقې د ابو مسلم خراساني په باب داسي تبلیغاب کول؛ چې د حلول له لاري د خدای روح په ابومسلم کي د الوهیت درجې ته رسیدلي ده؛ العیاذباالله په هرات او مروه کې هم دا عقیده وه چي منصور نومي پاچاه ابومسلم وژلی نه شي هغه شیطان و (ښکلی،۱۳۹۴،ص۴٦). دا ډول عقیده د اهل سنت والجماعت مخالفه په شریعت مقدسه کې ځای نه لري، خو د ځینو متصوفینو په عقیدو کي لېدل کېږي، روښان حلول د تصوف او وحدت الوجود په قالب کي مطرح کړل روښان په خیرالبیان او حالنامه کې وایي: چې خدای په مخلوق او مخلوق په خدای کې دی د کایناتو ټول تش ځایونه د خدای په واسطه ډک شوي دي. بایزید په خیرالبیان کې وایي ((گوره ادمیان زما په هست کې دي زما هست ده په ادمیان لکه کبونه په اوبو کې او اوبه په کبوکې لکه کبونه په اوبو ژوندي دي،هسي په ما ژوندي دي ادمیان )) ( روښان، ۱۳۹٦،ص ۳۸۵).

بایزید روښان ددغه ډول عقایدو په تعقیب مقامات وټاکل، د دې مقاماتو له ډلې یې د وصلت په مقام کې ځان له خدای سره یو کوي؛ یعني د اتصال داسي درجه ښیې، چې د پردو په لیري والي باور لري او د سکونت په مقام کې ځان له هر دیني مسولیته خلاص بولي(درویزه،۱۹٦۹،ص ۸٦). اسلامي شریعت دا ډول عقاید ردوي څکه قراني ایت په دي دلیل دی( نحن اقرب الیه من حبل الورید) الایة سورة ق ژباړه: چې زه تاسو ته ستاسو ترشا رگونو نژدي یم .

همدارنگه په حدیث شریف کي را ځي، چې پیغمبر علیه السلام به اویا ځله په شپه او ورځ کې استغفار وایه، د قبر له عذابه به یې پنا ه غوښته؛ تر محمد صلی الله علیه وسلم خو مقرب بنده د ځمکې پر مخ بل څوک نشته، چې هغه هم د خدای له اوامرو خلاصیدای نه شي، نو بایزید څرنگه ځان خلاصوي، په سیرت النبي صلی الله علیه وسلم کې راځي، چې پیغمبر علیه السلام د مرض په داسي سخت حالت کې هم لمانځه ته راغی، چې یولورته یې په حضرت علي اوبل لورته یې په فضل بن عباس رضی الله عنهم باندي تکیه کړي وه، په ناسته یې مومنانو ته لمونځ ورکړ، دا ډول تصوف چي شریعت یې نه مني د منلو وړ نه دی (مبارکپوري، ۱۳۸۱، ص ۵۷۸).

له پورته خبرو دا ثابته شوله، چې بایزید روښان په خپلو اثارو کې ځینې داسي مسایل په شعوري یا لاشعوري ډول راوړي دي، چې د نیوکې وړ دي، خو بیا هم د دې اثارو په لوستلو کې باید د سیمې

مذاهب، اديان، ټولنيز او هر اړخيز شرايط مطالعه شي، کېدای شي ځينې نور داسي مسايل پکې پيدا شي،چې د هغه وخت د غوښتنې به مطابق و، ولې نن به يې بڼه يو څه پيکه وي.

## مناقشه

په حقيقت کې هره ليکنه د لفظي جوړښت ترڅنګ د مفکورې انتقال هم په غاړه لري، بايزيد روښان د خپل وخت يوه نوموتی شخص و، سره له دې چې هغه د دوه ميدانونو اتل له ځانه جوړ کړ، د تصوفي تګلارو په جوړولو يې د سياست ميدان ته ودانګل، سره له دې چې د تصوف په برخه کې يې داسي اثار وليکل، چې موږ ته د عرفانی ادب او زړو لغتونو له مخې د ارزښت وړ اثار دي. د نوموړي په اثارو کې د هغه وخت د شرايطو سره سم ځينې پردی مفکورې له نورو اديانو او مذاهبو څخه زموږ تصوف ځکه داخلي شوې، چې يوناني فلسفه عربي ژبې ته وژباړل شوه، د وجود او شهود په نوم نظريې راغلي او له دې لارې ځينې نورې مفکورې، لکه : تناسخ او حلول هم زموږ په تصوفي اډانه کې ځای ونيو. په دې موضوع تراوسه پورې يوازې محمد اکبر کرګر صاحب په خپل اثر(په حالنامه کې د بايزيد روښان عرفاني او فلسفي څيره)کې حلول او تناسخ ته لنډه اشاره کړې ده، مګر دلته ما نوموړې موضوع په تفصيلي ډول وڅېړله، هره څېړنه ځانګړې نوښت لري، په ادبياتو پوهنځيو کې تر اوسه پورې د بايزيد روښان غوندې ليکوالو اثار په نصاب کې شامل اوغور لاندې نيول کېږي، مګر د داسي مفکورو چې د هغه وخت له حالاتو په تاثر په اګاهانه يا په ناګاهانه توګه راغلي دي، په يوه مقاله کې، چې بيرته يې په رد هم څه ليکل شوي وي، منظم جمع بندي او څېړل شوي نه وو.

زموږ په ټولو علمي چاپيريالونو کې کله نا کله په ناګهانه توګه داسي مسايل ځای پرځای شوي او داخل شوي دي، چې د خپل اصليت او ثبوت له مخې ډېر خطرناک وي، د تناسخ او حلول مفکورو اصلي ځای يونان او له هغه ځايه يې سرايت کړی دی، دا دواړه مفکورې سره له دې چې ديني اړخ لري، مګر زموږ په ادبي او تصوفي اډانو کې يې خپل اغېز او تاثر غورځولی دی. په ادب کې تصوف د منځنۍ ادبي دورې د تحليل او زده کړې په موخه لوستل کېږي، خو دلته له لويو تصوفي فلسفو(وحدة الوجود، وحدة الشهود) څخه نورې مفکورې هم د هغوی په تناظر وزېږېدلې، چې په ادبي لوستونو کې يې ياد له نوښته خالي نه دي.

تصوفي اثار سره له دې چې د ټولنې د عقېدت، سياسي، ټولنيزو او هراړخيزو افکارو مجموعه ده، د مسلمان لپاره د خپل ديني ارزښت تر څنګ د منځنۍ ادبي دورې اثار او اشعار ورباندې تحليل او تجزيه کېږي، همدا رنګه د داسي مفکورو پېژندنه يې هم له مهمو موخو څخه شمېرل کېږي.

## پایله

د بایزید روښان په اثارو کې د تناسخ او حلول مفکورو ته کتنه وشوه، چې دا دواړې مفکورې له یونانه راغلې دي، خو د تناسخ مفکورې په هندي ټولنه کې ډېر سرایت کړی و، ځکه د سیمې او ماحول شرایط داسي راغلل، چې زموږ په اثارو کې هم رنګ و بوی راښکاره شو.
تناسخیان عقیده لري، چې روح له یو وجود څخه له وتلو وروسته سمدستي بل ژوندي موجود ته داخلیږي، حال دا چې زموږ په دیني نصوصو کې یاده مسله مردوده او د رد لپاره یې بې شمېره دلایل وجود لري، د روښان د یوه مرید په لیکنو کې اشاره ورته شوي ، خو بیرته د روښان پیروانو دا خبره رد کړې ده، مګر حلول بیا داسي مفکوره ده، چې د وجودي فلسفې څخه تاثر اخلي او هر څه ته د حلول له نظره ګوري، چې یاده موضوع هم زموږ په دیني منصوصو دلایلو رد ده.
دا څېړنه به د زموږ دځوان نسل مفکوره روښانه کړي، په ځانګړې توګه د ادبیاتو د ځانګو محصلانو په پوهاوي کې به مرسته وکړي، ځکه د ادب تاریخ منځنۍ دوره بایزید روښان، د هغه اثار او پیروان لولي، چې مخکې له مخکې به دوی له ځان سره یوه ایډیا ولري.

## اخځلیکونه


۱ـ حبیبي، عبدالحی.(۱۳۹۱ل). پښتانه شعراء. لومړی ټوک. د مطیع الله روهیال په زیار. کندهار: علامه رشاد خپروندیه ټولنه.

۲ـ درویزه ، اخوند.مخزن الاسلام . ۱۹۶۹م ، پیښور: پښتو اکاډمي.

۳ـ دیوبندي، محمود الحسن، عثماني، شبیراحمد.(۱۳۹۳ل). کابلی تفسیر. سعودي عربستان: الحرمین الشریفین.

۴ـ روښان ، بایزید .خیرالبیان. ترتیب حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي ، بلوجستان : پښتو ټولنه چمن.

۵ـ روښان، بایزید.(۱۳۹۶ل). خیرالبیان . د معصوم هوتک سریزه، ترتیب، مقابله، سمون اولمنلیکونه. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

٦ـ روهي، محمد صدیق.(۱۳۹۴ل) . د پښتو ادبیاتو تاریخ . پېښور: مومند خپرندویه ټولنه.

۷ـ زیور، زیورالدین. (۱۳۸۹ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره. پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.

۸ـ ښکلی، اجمل.( ۱۳۹۴ل). تصوف او ادب . ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

۹ ـ غروال، محمد عارف.(۱۳۹۵ل). د پښتوادبیاتو په پرمختیایي بهیر د روښاني غورځنګ اغېزې. کابل: صدف مطبعه.

۱۰ ـ کرګر ، محمد اکبر.په حالنامه کې د بایزید روښان عرفاني او فلسفي څیره . ۱۳۸۵ل ، کابل: علوم اکاډمی.

۱۱ ـ مبارکپوري ، مولانا صفي الرحمن . الرحیق المختوم . ژباړه : سلطان محمود صلاح ، ۱۳۸۱ل ، پیښور.

۱۲ـ مخلص ، علی محمد .حالنامه. ۱۳٦۴ل ، کابل: علومو اکاډمی .

۱۳ـ ناګار، فضل ولی .د بایزید روښان عرفاني ادبي ښوونځی. ۱۳۹۴ل ،ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه

# Concepts of Transmogrification and reincarnation in the works of Bayezid Roshan

Hamidullah Hamidi [*1]
Department of Pashto Language and literature, Education Faculty Helmand University
**Email**: hamidullahhamidi887@gmail.com

## Abstract

Reincarnation and transmogrification, both non-Islamic and unfounded beliefs, can be classified as unique concepts, with their origins traced back to ancient Greece. The concept of reincarnation is deeply ingrained in Hinduism, having been further developed by Hindus, yet it has unconsciously permeated our works through the lens of Sufism. The idea of reincarnation within Islamic Sufism finds its roots in Greek Sufism, adapting to the philosophy of unity due to the influence of existential and intuitive philosophies that migrated from Greek Sufism into our own mystical traditions. As our literature embraced mysticism, these sparks inevitably appeared within it.

These concepts are inherently rejected and deemed unacceptable. To clarify, reincarnation refers to the transmigration of the soul from one body to another. Reincarnationists believe that upon the departure of a soul from a human or animal body, it instantaneously inhabits another body or temple without any temporal interruption. This belief, with its ancient origins, was propagated by Greek philosophers, notably the early Pythagoreans, who adopted it from the ancient poet Orpheus. The renowned Greek philosopher Plato also held this belief. The grave danger of this idea lies in its proponents' assertion that the soul, whether human or animal, simply transfers to another body upon leaving its previous one. However, Islamic philosophers have categorically rejected and invalidated the concept of reincarnation.

Furthermore, the notion of "reincarnation" implies the fusion of two entities to the extent that they become indistinguishable in their ruling. In Roshan's works, particularly in "Halnama" and "Khair al-Bayan," the idea of reincarnation is intertwined with his mystical thought process. Akhund Darviza Saheeb also attributes this idea to Bayezid in his series of accusations, claiming, "Friends, God has disappeared into people,

like salt in water or grains in plants; He has become one with everyone." They further assert, Al-Iyadh Billah; That "God is mixed in all things like sweetness in dates." Reincarnation, therefore, suggests the dissolution of one entity into another. The underlying message is that these concepts are foreign, non-religious, and inherently tied to other religions and civilizations, standing in stark contradiction and conflict with our religious beliefs, principles, and Islamic culture. It is imperative to protect oneself from these beliefs, as they are unequivocally unacceptable in any form.
**Keywords**: Movement, Sufism, Reincarnation, Idea, Slotude, Works

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Acdemic Journal

**Volume:1 Issue: 1 Year:2024**